# باچا خان رح

# یو عظیم مسلمان لیډر

اسرار د طورو

یوه ورځ حافظ محمد ادریس حسب معمول زمونږ حجرې ته راغے او چې په کټ کښې کښیناست نو خبره ئې شروع کړه:

"بېګاه مې په خوب کښې ډېر زیات ژړلي دي چا دا خبر راوړے ؤ چې باچا خان وفات شوے دے"

زۀ په دغو ورځو کښې د مردان کالج د دوېم کال (دولسم جمات) طالب علم وم او خپلو استاذانو کښې د حافظ صاحب د شخصیت نه ډېر متاثره وم. زۀ حېران شوم چې د باچا خان په مرګ آخر دا حافظ صاحب ولې دومره غمژن شو- دا د **1959** واقعه ده. هغوي وفرمائیل:

"اسراره! د باچا خان غوندې عظیم سړے به بیا خدائے خبر چې پښتون قوم راپېدا کړي. د هغۀ د خلوص او قربانۍ مثال په دې وطن کښې بل چا نۀ دے وړاندې کړے".

---

یو ځل د افغانستان سابق قاضي القضاة او ادیب مولانا محمد امین خوګیاڼي (مرحوم) دوه زامن عزیز جان او سېداغا طورو ته راغلي وو، د کورنۍ یو مشر، زیرک او ذهین دیني عالم مولانا حافظ لطف الرحمان (مرحوم) سره ئې د پاکستان او افغانستان په سیاسي او سماجي حالاتو مرکه کوله چې ناڅاپه ترې مولانا صاحب پوښتنه وکړه:

"په افغانستان کښې د باچا خان په شان لیډر شته؟"

زۀ د مولانا صاحب (مرحوم) خبرې ته فکر یوړم چې ګوره! د علامه انور شاه کشمیري دا قابل شاګرد د باچا خان د عظمت په څۀ والهانه انداز کښې اعتراف کوي.

---

د تقسیم نه اګاهو چې کله د ترکو نوموړې ادیبه خالده ادیب خانم هندوستان ته راغله او د ازادۍ ننګیالو مجاهدینو سره ئې ملاقاتونه وکړل د هغوي د فکر، د هغوي د کار او د هغوي د کردار جاج ئې واخست او بیا ئې خپل تاثرات د قلم قرطاس په وسیله ابدي کړل نو د باچا خان په حقله ئې لیکلي وو:

"هغه بې شکه د یو ازاد روح مالک دے، یو رښتونے او حقیقي مسلمان دے، د باچا خان د تحریک خدائي خدمتګار په اصولو کښې د اسلام فلسفه ځرګنده ده".

---

خان عبدالغفار خان د هندوستان او پاکستان په تاریخ کښې یو نۀ ورکېدونکے کردار دے. د هغۀ

پہ خپل قام کښې د مقبولیت دا حال ؤ چې د هغۀ پہ اشاره پښتنو پہ تشو تورو لاسو د پېرنګي استعمار توپو او مشینونو سره د صبر پہ جنګ کښې د خپلو مالونو او سرونو نذرانې پېش کړې وي. زرګونو خلقو ځوانۍ لَۀ لوړ کړې او د پېرنګي حوصلې ئې ماتې کړې. انقلابي شاعر محمد اکبر خادم وئیلي وو:

مونږ نۀ ویرېږو ستا له مشینه
مونږ نۀ ویرېږو ستا له سنګینه
کۀ د بال بچ سره مې تباه کړې پہ یو واره
اے ظالم سرکاره! څۀ له مو ویرې

د باچا خان جنګ ډېر ګران ؤ، دا د یو طاقتور او داړؤر ظالم سره د یو مسلمان، مظلوم او بې وسلې سپاهي جنګ ؤ. دا جنګ د ایمان، غیرت او یقین پہ توره کېدلو نو ځکه بہ هغه پہ هر مقام دا خبره کوله چې "ماله دوه ملګري پکار دي خو د کار، داسې ملګري چې پہ هغوي کښې د خدمت جذبه وي. هغۀ بہ وئیل د قومونو د ژوندي کولو دپاره داسې کسان پکار دي چې بې غرضه وي، دیانت دار وي، ایمان دار وي او د خدائے دپاره د قام خدمت ته تیار وي، هغۀ بہ وئیل چې داسې خلق پہ کوم قوم کښې پېدا شي نو د هغوي پہ کوششونو هغه قام کښې مینه، محبت، همدردي، ورورې او عزیزولي پېدا شي، هغه قام اباد شي.

د اګست **1928** پہ مجله "پښتون" کښې باچا خان د **1921** د تحریک او قېدوبند پہ ضمن کښې د عدم تشدد وضاحت پہ دې ټکو کښې کوي: "عدم تشدد دې ته وائي چې کۀ څوک دې پہ یو مخ ووهي نو بل مخ ورته وړاندې کړه، هر څومره ظلم کۀ دربانديې کېږي، هغه بہ زغمې، د پړق جواب پړق، د ګزار جواب ګزار بہ نۀ ورکوې".

د جنګ دا طریقه څۀ ډېره ګرانه وه، د پښتو لوئے شاعر غني خان د دې جنګ د سپاهي پہ باب له وئیلي وو.

جنګ له دے منصور روان توپ او نۀ تفنګ لري
نۀ د زغرې پړق شته دے نۀ د توري شرنګ لري

پہ دې جنګ کښې چې کله باچا خان پہ دسمبر **1921** کښې قېد شو، پہ داسې حال کښې چې د جمعې ورځ وه، د دسمبر نهم تاریخ ؤ او باچا خان سره د عبدالاکبر خان اکبر لګیا ؤ، د اتمانزو د آزادي مدرسې د مسافرو او غریبو هلکانو دپاره د ساګ او د ټېپرو مولو د کروندې پہ غرض ئې د قُلبو اشر غوښتے ؤ. دواله شروع وه چې د باچا خان د بیان مطابق (چې زۀ ئې د اګست **1928** د "پښتون" نه رانقل کوم) د هغۀ قېدولو له د پېرنګي پولیس راغلل نو دے کور ته لاړ، مور ته ئې خبره ونۀ کړه". هغه پہ ما ډېره مئینه وه او پہ دې خبره بہ ورته ډېر درد رسېدلے ؤ" باچا خان زیاته کړې ده چې: "دا زما مور سره آخري دیدن ؤ، بیا ما د هغې سترګې ونۀ لیدې، هغه زما د مخ لیدو ارماني ګور ته لاړه او زۀ د هغې ارماني پہ جېل کښې پاتې شوم".

باچا خان لیکي:

"بیا زۀ د خپل پلار پہ خدمت کښې حاضر شوم، دوي پہ حجره کښې ناست وو او حجره ډکه وه، ورته مې عرض وکړو چې ما پسې پولیس راغلي دي، راته ښکاري چې سرکار مې قېدوي. لېکن

تاسو ته مې دا عرض دے چې ما پسې د دې حجرې نه بهر لاړ نۀ شې، د چا خوشامندې ونۀ کړے، خپله خلۀ په چا مۀ خرابوئ، هيڅ غم مۀ کوئ، خوشحاله اوسئ چې خپل پښتون ورور ته مې ضرر نۀ دے رسولے، ډاکو نۀ يم، راهزن نۀ يم، قتل مې نۀ دے کړے، دا خو د خوشحالۍ ساعت دے چې زۀ نن د خدائے په لاره کښې جېلخانې ته ځم، د دې نه زياته لويه خبره او نيکي به څۀ وي چې سړے د خپل قام او ملک په محبت کښې جېلخانو ته لاړ شي.



بابا جانه! دا څومره د شکر ځائے دے چې زمونږ بدقسمته قام د خپل قام په تباهۍ کښې جېلخانو ته ځي او زۀ د خدائے د پاره او د هغه بدقسمته قام د خدمت په سبب، د محبت په سبب، د اصلاح په سبب ځم. د خدائے پاک نه امېد دے چې زمونږ د بدقسمته قام د اصلاح به دا ورومبے بنياد شي. بابا جانه! دعا راته کوه چې ما خدائے پاک په دې امتحان کښې پاس کړي. ما له خدائے پاک صبر راکړي، استقلال راکړي، د سختو د زغملو طاقت راکړي، زما په زړۀ کښې د پېرنګيانو ويره پېدا نۀ شي، ما کښې خدائے دا لياقت کېږدي چې زۀ د قام او ملک خدمت وکړم". باچا خان وړاندې ليکي: "د باباجان د رنګ او مخ نه خفګان ظاهرېدۀ لېکن بيا هم ما له ئې ډېره تسلي راکړه، دعا ئې راته وکړه او زۀ ترې نه رخصت شوم".

د باچا خان د لرغوني تحرير دا اقتباس د هغۀ د کلکې عقيدې، مسلمانۍ او بې غرضه خدمت آئين دے. کله چې جېل ته د تګ په موقع د "تحقيق" په مقام د مانځۀ وخت راغے نو باچا خان وائي:

" د ناقۍ تاڼه کښې مو مونځ د پاره موټر ودرولو ولې چې مونځ قضا کېدۀ" د مانځۀ داسې پابندي يو با عمله مسلمان پښتون کولے شي.

باچا خان د مونځ روژې پابند مسلمان ؤ. بدخواهانو د هغۀ په حقله د خپلو غرضونو په خاطر غلطې خبرې کولې، هغۀ د دې خبرو پروا نۀ ساتله. په خپل کار کښې لګيا ؤ، نۀ د چوکۍ غرضي ؤ، نۀ د کرسۍ طلبګار، هغه خو يو رښتونے خدائي خدمتګار ؤ.

---

د باچا خان د تحريرونو د يوې جملې نه د هغۀ کلکه عقيده څرګندېږي. د پس مرګي ابدي ژوندون د عقيدې اظهار د هغۀ په خپلو ټکو کښې د **1921** د جېل د قيصې نه دا رنګ کېږي.

"زما د پنجرې حال واورئ، دا يوه تنګه تاريکه کوټۍ وه چې زۀ پکښې په مشکله سره په اوږدو راتلم".

وړاندې ليکي: "هم دغه شان زمونږ بعضې ورونړه د دې تورو کوټو نه وويرېدل او خپل ابدي عمر ئې د يو څو ورځو په عمر، عزت ئې په ذلت او فتح په شکست بدله کړه".

دا عظيم انسان زړور او بهادر ؤ. د ژوند د مقصد په لار کښې ئې د زړهٔ په سترګو د جبر، ظلم او ستم ازغي ښکلول خو د ټيټو سترګو ژوند ئې نهٔ خوښوو، هغه وائي:

"زهٔ د دې ټيټو سترګو له ژونده د وچتو سترګو مرګ بهتر ګڼم" ("پښتون" ستمبر **1928** مخ **8**)

د "پښتون" دغه مجله کښې باچا خان ليکي:

"زما د خپل قوم په خدمت کښې دا عرض دے چې هر څوک د خپل قوم او د ملک خدمت کول غواړي نو په ډېر غور او فکر سره دې په دې مېدان کښې قدم ږدي. هغه دې د پخوانو مسلمانانو په شان قدم وي چې سره د قسم قسم تکليفونو او مصيبتونو په وروستو نهٔ ځي".

او بيا ئې دا شعر ليکلے دے:

ځان مېده په ګټه کړه لکه نکرېزې
په تلي کښې د اشنا لګېدهٔ غواړې

زما د خوږ وطن په تاريخ کښې دومره لوئے، دومره صبر کوونکے، دومره مظلوم او دومره سوچه او کره خدائے پرست مسلمان ليډر بل څوک دے؟ د پښتون د ستمبر **1928** شماره ګواه ده په خپله دا سرتور ملنګ ليکي:

"وخت ماښام او جېل خانه بنده شوې وه، صرف زمونږ بندول باقي وو. زهٔ چې څهٔ وخت خپلې کوټې ته ورننه شوم چې اول زما دپاره مقرر شوې وه نو سخت بوئے راغے، ترورمے وه چې نظر مې وکړو نو يو دوه لوښي مې سر ترسره ډک يو د لويو او بل د وړو بولو وليدل. زهٔ فوراً بهر شوم، جمعدار ته مې ووې چې دا کوټې ډېره ګنده ده څهٔ انتظام ئې پکار دے هغهٔ جواب راکړو چې دا جېل دے".

وړاندې ليکي: يو ساعت يو قېدي راغے او د ترخو جوارو لمده (لونده) خوشته ډوډۍ ئې راته په جنګله کښې راواچوله، د ټولې ورځې وږے وم، يوه ټکړه مې ترې په مشکله وخوړه د پوه مياشت وه، يو ترپړے او درې زړې کيندړې کمبلې پرتې وې، يوه مې په ترپړې دپاسه واچوله او دوه مې د اغوستو دپاره يو ځائے کړې، څنګه چې ځائے کوتاه ؤ، دغه شانې سامان هم ؤ".

باچا خان ليکي:

"ماسخوتن داخل شهٔ، په مانځهٔ ودرېدم، زهٔ به څهٔ ووايم، په ټول عمر کښې ماله مونځ داسې خوند او داسې مزه نهٔ وه راکړې، نهٔ چرې زما داسې حضور او توجه وه چې د مونځ نه فارغ شوم نو بيا مې الله تعالي نه دعا وغوښته. اے خدايه! ماله صبر او استقلال راکړې، ما باندې امتحان ونهٔ کړې، زهٔ ستا ډېر کمزورے بنده يم. بغېر ستا د فضل و کرم نه زهٔ هېڅ نهٔ شم کولے، زما قوم د دې غلامۍ نه ازاد کړې، زما قوم کښې دا جذبه پېدا کړې چې دا خپله غلامي او ذلت محسوس کړي، علوم و فنون ته ئې توجه کړې، اتفاق ئې نصيب کړې، پکښې محبت او همدردي پېدا کړې او زمونږ انجمن او د هغې ممبران د ظالم د هر ظلم نه په امان کړې، زمونږ مدرسې ته ترقي ورکړې او د دې نه داسې هلکان وباسې چې د خپل قوم او د ملک خدمت وکړي. ما

د دې لائق او قابل وګرځوې چې زۀ د خپل قوم، د وطن او د اسلام خدمت وکړم".

د باچا خان د دې دعا لفظ لفظ د هغۀ په صداقت، ايثار او مسلمانۍ ګواه دے، دا عظيم ليډر په خپل قام، وطن او اسلام بې کچه ډېر مئين ؤ.

د عظيم انسان د عظمت يو دليل دا وي چې هغه د خپلې غلطۍ په اعتراف نۀ شرمېږي. د 1928 په "پښتون" کښې د باجوړ په بابله يو ليک چا خبر لوڅي شائع کړو، دې کښې په بعضې پښتنو خانانو څۀ ليکلي شوي وو نو ګيله مانه ترې نه پېدا شوه. باچا خان په دغه حواله وليکل:

"زۀ د باجوړ ورور او د ټولو پښتنو ورونړو په خدمت کښې دا عرض کول غواړم چې "پښتون" د ټولو اخبار دے او دے د ټول قام د خدمت دپاره دے او په دوي کښې د همدردۍ او محبت پېدا کولو دپاره جاري کړے شوے دے. نۀ د دې مقصد تجارت دے، نۀ توقع ده، نۀ طمع ده، نۀ خوشامندې دي. نۀ پره جنبه ده، نۀ ناموري ده، نۀ ذاتيات دي بلکې د ټول قام يو ځائے کول دي او په يوه ډله او يوه ورورولۍ کښې راغونډول دي او نۀ زما د سوات، دير، باجوړ او افغانستان نه څۀ توقع شته او نۀ لرم. ځان د ټولو پښتنو ورونړو خدمتګارګڼم، خو هم دغه شان د دوي هم يم او څومره چې مې نورو سره محبت او همدردي ده دغه هومره مې دوي سره هم ده. زۀ يو غريب سړے يم، په جوارو شوملو ګزاره کولے شم او خدائے د دې نه ډېره راکړې ده، شکر دے چې د موجوده تهذيب په رنګ نۀ يم رنګ شوے، هم دغه وجه ده چې د خلقو محتاج نۀ يم.

دا غلطي ما د اګست په پرچه کښې تسليم کړې ده، آخر زۀ انسان يم. کارونه مې ډېر دي، غلطي رانه وشي، امېد دے بيا به د "پښتون" په پاڼو کښې دا قسمه مضمون ونۀ وينئ".

د عزم او جرات، د مړانې او شجاعت څښتن باچا خان د فرورۍ 1929 "پښتون" په صفحه 6،7 ليکي:

"د حوالات نه زۀ د پېشۍ دپاره بوتللے شوم نو د مختلفو الزامونو اورولو نه پس، صاحب زما نه تپوس وکړو چې ستا بيان څۀ دے؟ ما ووې چې زما مدعي څوک دے؟ وې وئيل "سرکار" نو ما وې چې سرکار مدعي شي او د سرکار يو نوکر منصف شي نو زما په خيال ښه د انصاف فېصله به وشي! زما هيڅ جواب نشته او نۀ زۀ د داسې جج نه د څۀ انصاف توقع کولے شم. ستا مرضي! چې څومره ستا قلم کښې زور دے او څومره چې تۀ ما قېدولے شې، قېد مې کړه. پام کوه چې سبا دې په زړۀ ارمان نۀ وي يا پاتې نۀ شي. زۀ د دې کار دپاره هغه وخت تيار وم چې کوم وخت ما د خپل قام او ملک خدمت ته ملا تړلې ده، څوک چې د اسلام خدمت کوي نو دا تکاليف به زغمي.

د دې په اورېدو "صاحب" لا په قهر شۀ او ما ته ئې ووې چې "تۀ ما درې کاله قېد کړې" ما ورته وخندل چې:

"افسوس مونږ څۀ خوش قسمته قوم يو چې ستا غوندې حاکمان لرو چې قېد دې هم زۀ کړم، ظلم دې هم په ما وکړو او قهر هم تاله درځي".

تاسو فکر وکړئ په آزادۍ مئین، د اسلام دا نر او بهادر فرزند او خدائي خدمتګار د ظالم عتاب او ظلم څنګه په خندا زغمي!!!

---

د جېل د جامو په حقله د مارچ 1929 د "پښتون" په 14 مخ باچا خان لیکي:

"بله عجیبه خبره دا ده چې د جېلخانې په جامه کښې مساوات دے، که چرې د یو سړي قد یوه لېشت وي او د بل لس لېشتې وي نو د دواړو دپاره هم هغه یوه جامه ده. زهٔ به درته څهٔ وایم چې کوم وخت دغه جامې ما واغوستې نو زهٔ پکښې عجیبه ښکارېدم چې ځان ته به مې کتل نو خندا به راتله، پرتوګ مې د پنډو پورې ؤ او قمیص مې روغ په بړه لګېدهٔ، یو نا اشنا بوت وم".

---

باچا خان د غلام اولس د آزادۍ، سربلندۍ او ابادۍ دپاره خپله خاني پرېښوده، د دنیا عېش او آرام ئې په ځان او په خپلو بچو او دوستانو حرام کړو، هغهٔ خپل نیازبین وجود، ګلالۍ ځواني او بیا زاړهٔ هډونه، د قام نه ځار کړل او د هغوي خدمت ئې تر هغه وخته پورې وکړو، تر څو چې د هغهٔ په وجود کښې حرکت ؤ، هغه په تګ و دؤ ستړے نهٔ شو، هغه د ظالمانو په ظلم ودړدېدلو خو د خپلې لارې نه ستون نهٔ شو، هغه د جابرانو ظلمونو ستومانه نهٔ کړو، هغه مصیبتونو او تکلیفونو بې دمه او ناتوانه نهٔ کړو، هغه د اغیار نه ګیله نهٔ کوله، ولې د یار بې وفائۍ هم د هغهٔ په مینه کښې څهٔ کمے رانهٔ وست، هغه د پښتنو، پنجابیانو، سندهیانو، بلوچانو، بنګالیانو او د افغانانو هندوستانیانو بلکه د خدائے د مخلوق خېرخواه او خدمتګار ؤ، که هغهٔ د آزادۍ جنګ نهٔ وے ګټلے نو نن به زما د خوږ وطن خانان، وزیران او ګورنران نهٔ وو، د هغهٔ محنت زمونږ ګټه ده.

---

د هغهٔ قرباني زمونږ عزت، دولت او ثروت دے، د هغهٔ مینه افاقي وه، په هغهٔ کښې کرکه او تعصب نهٔ ؤ، هغهٔ مینه کوله، هغهٔ وروروليي غوښتله، هغهٔ د انساني حریت، شرافت او مساواتو نهٔ ستړے کېدونکے علمبردار ؤ، هغه وئیل چې "د ژبې، نسل او مذهب په نوم تفرقه پېدا کول استعماري سیاست دے" هغه د جبر، ظلم او استعماري سیاست سره مبارزه د ژوند وظیفه ګڼله او تر مرګه مرګه ئې دا مبارزه وکړه، هغه په وچتو سترګو او هسکه غړې خپل مالک او خالق له تلے دے.

خدائے پاک دې د هغهٔ روح ته ابدي خوشحالي ورکړي.(آمین).

تهٔ به تل تر تله یاد ئې　　تهٔ به تل ترتله ښاد ئې
چې اباده دا دنیا وي　　تر هغې به تهٔ اباد ئې